مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د کب پنځمه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۲٤مه | ۵۱۹مه ګڼه

# سوله او ټاکنیزې ناندرې؛

## افغان سیاستوال د رامنځ ته شوي وضعیت د کابو کولو لپاره هڅې کوي




د ټاکنیزې لانجې د حل لپاره دریېمه لار
۲ مخ

افغانان د چین د خلکو درد خپل درد ګڼي
۲ مخ

افغان سوله؛ د ټاکنو پایلې او لنډمهاله اوربند په ازمېښت کې
۳ مخ

## شاهین: ځینې کړۍ هڅه کوي چې د سولې خبرې ناکامې کړي

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین ویلي، ځینې کړۍ هڅه کوي چې له امریکا سره د طالبانو رواني خبرې چې حساس پړاو ته رسېدلې دي، ناکامې کړي. نوموړي له الجزیرې خبري شبکې سره په خبرو کې ویلي، ځینې کړۍ د دې خبرو د ناکامولو هڅه کوي، خو په خبره یې، دوی نه شي کولی دا خبرې ناکامې کړي؛ ځکه چې طالبان واحد دریځ لري او د افغانستان پر شاوخوا ۷۰ سلنه خاوره حاکمیت لري. نوموړي زیاته کړې، ټولو نظامي طالبانو ته سپارښتنه شوې چې له امریکا سره شوې هوکړې ته ژمن اوسي، خو په خبره یې، د نورو له لوري د هر ډول تېري ځواب ته هم چمتو دي. شاهین د خپلو خبرو پر دوام ویلي، له امریکا سره پر هغې هوکړې هم ولاړ دي چې له مخې به یې افغان خاوره د هېڅ بهرني هېواد پر ضد نه کارول کېږي او دوی هڅه کوي چې د سیاسي ډیالوګ له لارې په افغانستان کې د امریکا اشغال ته د پای ټکی کېږدي.

د نوموړي دغه څرګندونې داسې مهال دي چې له شنبې ورځې راهیسې تر دې دمه په ټول هېواد کې د اورکم پړاو په پرله پسې ډول عملي شوی او د هېڅ کومې لویې پېښې او نښتې راپور نه دی ورکړل شوی. په ورته وخت کې ټاکل شوې چې د دغه پړاو په پای ته رسېدو سره به د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه هم لاسلیک کېږي او پنځه زره طالب بندیان به له زندانه ازادېږي.

## په هرات کې د کرونا ویروس درې مشکوکې پېښې ثبت شوې



۵ مخ

هېواد
۴ مخ

## ویتنام

دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید د پرله پسې ډېرښت له امله، د آسیا یو ګړندی پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.



## الکو: روان کال د هلمند د جوارو په حاصلاتو کې ۱۶.۵ سلنه زیاتوالی راغلی



د هلمند د کرنې ریاست چارواکو ویلي، د تېر کال په پرتله د دغه ولایت د جوارو په حاصلاتو کې ۱۶.۵ سلنه زیاتوالی راغلی.

د هلمند د کرنې رییس زلمي الکو ویلي، سږ کال د دغه ولایت په ۳۸ زره هکټاره ځمکه کې جوار کرل شوي وو، چې ۱۹۰ زره ټنه حاصلات ورځخه تر لاسه شوي دي چې د هغه په خبره، دا شمېره تېر کال ۱۸۰ زرو ټنو ته رسېده.

الکو زیاته کړې، په دغه ولایت کې روان کال پرېمانه اوبه، د اصلاح شویو تخمونو وېش، د جوارو کرکېلې ته د بزګرانو لېوالتیا او په دې برخه کې د بزګرانو روزل د حاصلاتو د زیاتېدو لامل شوي. هغه ویلي، له هلمند څخه هره ورځ له ۵۰۰-۹۰۰ متریک ټنه جوار کابل، لوګر، غزني، کندهار، مقر، شاجوی، بولدک او ننګرهار ته صادرېږي چې په یادو ولایتونو کې پروسس او د نباتي غوړیو د جوړولو تر څنګ په نورو برخو کې ترې ګټه اخیستل کېږي.

## لوی څارنوالی: در سال روان ۵۰ تن به «خیانت ملی» متهم شده اند



ادارۀ لوی څارنوالی، از رسیده گی به ۳۵۴ قضیه خیانت ملی در ده سال اخیر خبر داده می گوید که در پیوند به ۳۹ قضیۀ خیانت ملی در سال روان، ۵۰ تن متهم شناخته شده اند.

جمشید رسولی سخنگوی ادارۀ لوی څارنوالی، به رسانه ها گفته است که به این قضایا از سال ۱۳۸۹ تاکنون رسیده گی صورت گرفته است.

موصوف علاوه کرده است که این قضایا پس از بررسی های کشفی به څارنوالی احاله و څارنوالی هم در روشنایی قوانین نافذه کشور به گونه عادلانه، منصفانه و بی طرفانه در مورد تصمیم اتخاذ کرده است.

او تصریح کرده است: «قضایای متذکره تحت کار ریاست څارنوالی مبارزه با جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی قرار گرفته و به تمامی آن، در روشنایی قانون رسیدگی لازم صورت گرفته است.»

به گفتۀ وی، اکثریت افراد متهم به خیانت ملی بازداشت و از طرف لوی څارنوالی مورد تحقیق قرار گرفته اند و دوسیه های نسبتی شان به محکمه محول شده است.

رسولی در ادامه گفته است: «تعداد باقی مانده تحت تعقیب عدلی څارنوالی ما در این بخش قرار دارند که در هماهنگی با نیروهای امنیتی و کشفی تلاش صورت می گیرد تا این اشخاص و افراد هم گرفتار و به پنجه قانون سپرده شوند.»

به اساس معلومات سخنگوی اداره لوی څارنوالی، افراد مظنون به قضایای خیانت ملی اتباع افغانستان می باشند و به نحوی شامل یکی از مواد ماده ۲۳۸ کود جزای افغانستان می باشند.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریېمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـځ

### د ټاکنیزې لانجې د حل لپاره دریيمه لار

محمد اشرف غني یو کمېسیون ته دنده سپارلې چې د ده د لوړې مراسمو لپاره تیاری ونیسي. ټاکل شوې چې د راتلونکې پنجشنبې په ورځ د لوړې مراسم وشي. ارگ په داسې حال کې د لوړې مراسمو ته د تیارۍ خبرې کوي چې پرون په جوزجان ولایت کې هم د ثبات او همپالنې ټیم له خوا ټاکل شوي والي خپل کار پیل کړ. تر دې وړاندې په سرپل کې هم د جنرال دوستم له خوا ټاکل شوي والي خپل کار پیل کړی و. دغه راز د پنجشیر والي هم له ډاکټر عبدالله څخه د ملاتړ او د اشرف غني د حکم د نه منلو اعلان کړی دی. د ثبات او همپالنې ټیم وایي چې د والیانو ټاکنه به نورو ولایتونو ته هم وغځوي.

د ارگ له خوا د لوړې مراسمو ته تیاری او د ثبات او همپالنې له خوا د چارواکو د گومارنې لړۍ، ښکاره کوي چې د ټاکنیزو پایلو د اعلان له امله را ولاړه شوې لانجه لا پېچلي حالت ته داخلیږي. اټکل دی چې د ثبات او همپالنې ټیم به همداسې خپلو کارونو ته دوام ورکړي او په دې ډول به ستونزه پراخه شي. که ارگ د دغو ټاکنو او هڅو پر وړاندې غلی پاتې کېږي، بیا نه د موازي حکومت یا پر یو وخت د دوو حکومتونو موجودیت دی. که ارگ د امنیتي ځواکونو پر مټ د دغو کسانو پر ضد گام اخلي او خپل چارواکي د واک پر گدۍ ساتي، نو بیا هم د ستونزې د لا خطرناکېدو وېره ده. له شک پرته چې مخالفین ولسي ملاتړ لري او دا ملاتړ تر اشرف غني کم هم نه ښکاري. په دې ډول د زور کارول به تر دې لا زیاته کیسه خرابه کړي. دا دواړه لارې؛ ارگ واکمنو، حکومت، مخالفینو او په ټوله کې افغانستان له ناوړه حالت سره مخ کوي او پکار ده چې دا لارې ونه کارول شي.

خو دریيمه لاره څه ده؟

پکار ده چې دواړه لوري د خبرو اترو او تفاهم لاره خپله کړي. یو لوری باید د موازي یا دویم حکومت جوړولو هڅې ودروي او بل لوری هم باید د لوړې مراسم او د ځان ته د منتخب ولسمشر فکر بند کړي. تر هغو چې له یوه لوري سره دا ذهنیت وي چې ټاکنې یې گټلې او له دویم سره دا ذهنیت وي چې دوی هم گټلې او باید حکومت جوړ کړي، لانجه پېچلې کېږي. له همدې امله پکار ده چې دواړه لوري له ټاکنیزو بریاوو او یا پر دې اساس د مشروعیت او فعالیتونو هڅې پرېږدي. دواړو ته مناسبه، معقوله او سمه لاره دا ده چې تېرې ټاکنې او پایلې یې یو مخ لغوه کړي. دوی باید همغه د ملي یووالي حکومت په چوکاټ کې کار ته تر هغو دوام ورکړي چې د سولې د پرمختگونو پر اساس یو بل انتقالي یا هر ډول حکومت راشي. په دې سره نه یوازې دا چې اوسنۍ لانجه حل کېږي، بلکې دا چاره به په کابل کې د سولې لپاره د یو واحد دریځ له رامنځ ته کېدو سره هم مرسته وکړي. له دې پرته دواړه لوري د ټکر خوا ته روان دي، دواړه به تاوان کوي، خو د افغانستان خلکو ته به هم زیان اړوي.

# افغانان د چین د خلکو درد خپل درد گڼي



لیکنه: حمیدالله حمیدي
په افغانستان کې د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانگې خبریال

سعدي وایي: «چوعضوی بدرد آورد روزگار دیگر عضوها را نماند قرار» پښتو ژباړه یې داسې ده چې که چېرته د بدن یو غړی په درد شي، نور هم ور سره دردمن کېږي. چین د نړۍ د لوی کلي هغه کور دی چې نن درد ور باندې راغلی دی او ښکاره خبره ده چې په دې درد یې د کلي نور کورونه هم دردمن شوي دي.

تاسو خبر یاست، څه موده کېږي چې د افغانستان په دوست گاونډي هېواد چین کې د کرونا ویروس ناروغي رامنځ ته شوې ده او د دغه هېواد له اوسېدونکو یې د پسرلني اختر رنگینې شیبې واخیستې. زه په دې بحث نه کوم چې په چین کې د دې ناروغۍ له کبله څومره کسان مړه شوي او یا څومره کسان پر دې ناروغۍ اخته دي، بلکې په دې خبرې کوم چې افغانستان یا د افغانستان خلک د دوست گاونډي هېواد چین سره په دې برخه کې څه کولای شي او څه ډول ور سره خپله خواخوږي شریکوالی شي.

په سیاسي، کلتوري، اقتصادي او سوداگریزو برخو کې د افغانستان او چین د تاریخي او دوستانه اړیکو لنډه کتنه هغه مهال ته ور گرځي، چې د وربښمو لار له افغانستان څخه چین ته غځېدلې وه. د افغانستان او چین تر منځ تاریخي اړیکې په اوومه میلادي پېړۍ کې پیل شوې. ویل کېږي چې د چین د مانکانو د هغه مهال مشر، سوان ژنگ د بامیانو دره ولیده او د بودا د دوو سترو مجسمو ستاینه یې وکړه. په افغانستان کې د لنډمهاله دولت له جوړېدو را پدېخوا د دواړو دولتونو تر منځ د نویو اړیکو زمینه مساعده شوه. د ۲۰۰۱ ز کال په ډسمبر میاشت کې د افغانستان دولت د پیکن له خوا په رسمیت و پېژندل شو او په ۲۰۰۲ ز کال کې ولسمشر حامد کرزی پیکن ته لاړ، چې تود هرکلی یې وشو او په پایله کې یې د دواړو هېوادونو تر منځ د اقتصادي همکاریو لومړی تړون لاسلیک شو او چین د افغانستان د بیارغونې په یوه ښه لوبغاړي بدل شو.

لکه څه ډول چې ټولو ته معلومه ده په افغانستان کې له څلورو لسیزو راهیسې د جگړې اور بل دی او اوس داسې ښکاري چې د دغه بل شوي اور لمبې ورو ورو په مړه کېدو دي او زموږ د هېوادوالو په زړونو کې نوې هیلې را ژوندۍ شوې دي. زموږ په هېواد کې رواني جگړې او ناخوالې د دې لامل شوې دي چې افغانستان په روغتیایي او یا نورو برخو کې له گاونډیو او یا د نړۍ له نورو دردمنو هېوادونو سره له مرستې او یا لاس نیوي پاتې شي. دغه مشهور اصطلاح به مو اورېدلې وي چې وایي: «بنده په وس نیولی». سمه ده موږ به د گاونډي هېواد چین له دردمنو خلکو سره د مالي یا روغتیایي مرستو توان او وس ونه لرو، خو ډاډ گېرنه، خواخوږي او غم شریکي ور سره کولای شو. ډېره کله یوه الهام بښوونکې خبره او ډاډ گېرنه تر ډېرو مادیاتو ښه وي. دوست هغه دی چې په بده ورځ ستاسو مرستې ته در ودانگي، لاس نیوی مو وکړي او ډاډ گېرنه درکړي.

چین د یوه ښه گاونډي په توگه تل د بې وزله، ناروغو او بې سر پناه افغانانو لاس نیوی کړی او مرستې ته یې ور دانگلي دي. چین یوازې تېر کال له افغاني سرې میاشتې سره د یوې هوکړې له مخې سل تنه هغه ماشومان چې د زړه سوري پر ناروغۍ اخته وو، په سختۍ به یې ساه اخیسته، مرگ ته یې شېبې شمارلې، میندو، پلرونو او د کورنۍ نورو غړو یې یوازې له ناهیلیو په ډکو سترگو ورته کتل او د درملنې توان یې نه درلود؛ د چین ارمچي ښار ته د درملنې لپاره بوتلل. له درملنې وروسته یې ببرته په روغ زړه د خپلې کورنۍ غېږې ته وسپارل. ایا د دې ماشومانو کورنۍ به د چین هېواد غه بشر دوستانه مرسته هېره کړي؟ نه هېڅکله به یې هېره نه کړي.

په افغانستان کې د چین سفیر تېره اونۍ په خپلو خبرو کې یو ځل بیا ژمنه وکړه، چې هېواد یې په دې سختو شرایطو کې هم افغانستان نه دی هېر کړی، بلکې د تل په څېر یې په یاد دی او سږ کال به هم د سل تنو په شاوخوا کې هغه افغان ماشومان چې د زړه سوري پر ناروغۍ اخته دي، د درملنې لپاره د چین اورمچي ښار ته واستوي.

د دواړو هېوادونو د رسمي اړیکو له پیل بیا تر اوسه چین یوازې د نیک نیت له مخې له افغانستان سره گاونډیتوب پاللی دی. له نن څخه یې کلونه مخکې په پروان ولایت کې د ځمکو د خړوبولو په موخه، سر بندونه جوړ کړل، ویالې یې جوړې کړې او بزگرو ته یې په معیاري ډول د کښتونو د خړوبولو امکانات برابر کړل. د نورو بشر دوستانه مرستو تر څنگ، چین په افغانستان کې د روغتیا په برخه کې هم نه هېردونکې مرستې کړې دي. په کندهار کې میرویس روغتون چې د کندهار د حوزې خلک یې د نیک نیت له مخې چینایي روغتون بولي؛ کلونه مخکې فعال کړی او هره ورځ د کندهار، هلمند، زابل او نورو نږدې ولایتونو په سلگونو تنه ناروغان د درملنې په مخه ورځي او درملنه یې پکې کېږي. دغه راز د کابل جمهوریت روغتون چې تر ډېره پکې د بدوډو اړوند ناروغیو درملنه کېږي، د چین د دولت په مرسته یې بیارغونه وشوه، مالي ملاتړ یې کېږي او د ورځې سلگونه کسان ورته د درملنې په موخه راځي.

په افغانستان کې د چین سفارت تېر کال د خپلو بشر دوستانه مرستو په لړ کې په کابل ښار کې له کورنیو بې ځایه شویو سره د خېمو، کمپلو، خوراکي توکو او نورو وسایلو مرسته وکړه چې زه خپله د یوه خبریال په توگه د صحنې شاهد وم او هغه وخت مې راپور هم ور باندې جوړ کړی و.

چین د یوه ښه گاونډي په توگه د دې ټولو مرستو تر څنگ هر کال ډېر محصلین د لوړو زده کړو په موخه دغه هېواد ته ور غواړي، د لېسانس، ماسترۍ او دوکتورا په کچه لوړې زده کړې کوي او ببرته د هېواد په ابادۍ کې د برخې اخیستو په موخه افغانستان ته را گرځي. همدا اوس ۲۰۰ افغان محصلین چین ته د لوړو زده کړو لپاره تللي دي. له دې ډلې ۴۲ تنه یې په ووهان؛ هغه ښار کې چې د لومړي ځل لپاره پکې د کرونا ویروس پېښه ثبت شوه، ژوند کوي.

تېره اونۍ د چین سفیر په یوه کنفرانس کې چې زه خپله په هغه کنفرانس کې حاضر وم، په چین کې د افغان محصلینو کورنیو ته ډاډ ورکړ چې چین د کرونا ویروس د مخنیوي په برخه کې د چینایي او د نړۍ د نورو هېوادونو د وگړو تر منځ هېڅ توپیر نه کوي، ټولو ته په یوه سترگه گوري او له دې ناروغۍ څخه د ژغورلو په موخه خپلې وروستۍ هڅې کوي. په افغانستان کې د چین سفیر وانگ یو ویل، د چین په پوهنتونونو کې د ټاکل شویو طبي ټیمونو له لوري د ورځې دري ځله د افغان محصلینو د روغتیا پوښتنه کېږي او ټول هغه امکانات یې ورته برابر کړي، چې دوی ورته اړتیا لري.

له افغانانو سره د چین د خلکو مینه یوازې هغه کسان درک کولای شي، چې دغه هېواد ته یې سفر کړی وي. د دې مینې په اړه تاسو له هغو افغان سوداگرو او هغو افغان محصلینو پوښتلای شی چې چین ته یې سفر کړی وي او په چین کې یې ژوند تېر کړی وي.

کله چې د جنوبي افریقا په هېوادونو کې د ابولا ناروغي خپره شوه، چین د خپلې بشردوستۍ له مخې په خپل ټول توان له دې هېوادونو سره اوږه پر اوږه د ابولا ناروغۍ د مخنیوي لپاره متې بډ وهلې، درمل او روغتیایي ټیمونه یې دغو هېوادونو ته واستول او خپل مسوولیت یې ادا کړ.

زه ډاډه یم؛ چین کولای شي په پوره مېړانه له دې حالت څخه ځان وباسي او یو ځل بیا ساه واخلي. ځکه دغه هېواد له دې وړاندې هم د دې ډول عامه ناروغیو سره مخ شوی، ناروغۍ یې کابو کړې او له منځه یې وړې دي.

دا چې چین د نړۍ د دویم لوی اقتصاد درلودونکی هېواد دی، نو نه یوازې په اقتصادي برخه کې، بلکې په هر اړخیزه توگه یې پرمختگ کړی دی، چې له دې برخو یوه یې هم روغتیایي برخه ده. د دې هېواد طبي برخې او ټیمونه په پوره زړورتیا د کرونا ویرس پر وړاندې مبارزه کوي چې اوس یې تر خپل کنټرول لاندې راوستی دی. د روغتیا نړیوال سازمان د کرونا ویروس په برخه کې د چین هڅې ستایلې دي او خپل بشپړ ملاتړ یې ور څخه څرگند کړی دی.

لکه څه ډول مې چې مخکې وویل، که څه هم چې افغانستان په هغه وضعیت کې نه دی، چې له خپل گاونډي هېواد چین سره د کرونا ویروس په کنټرول کې طبي او مالي مرسته وکړي، خو د افغانستان خلک د چین دغه درد خپل درد بولي او د خپلې خواخوږۍ مراتب ورته وړاندې کوي.

تاسو به په ټولنیزو رسنیو کې د افغان سوداگرو، افغان محصلینو او په ټوله کې د افغانانو هغه ویډیو کلیپونه لیدلي وي چې وایي، ژوندی دې وي چین! ژوندی دې وي ووهان! دا خپله له چین او د چین له خلکو سره د افغانانو د مینې او خواخوږۍ ښکارندویي کوي. د داسې یوې ورځې په هیله چې ډېر ژر له ټولې نړۍ څخه د دغه بدمرغه ویروس لمن ټوله شي.

## روسیه: په منځني ختیځ کې د رواني بې ثباتۍ یوازینی لامل امریکا ده



د روسیې د بهرنیو چارو وزارت یوه لوړپوړي چارواکي ویلي، په منځني ختیځ کې د رواني بې ثباتۍ عمده دلیل د امریکایي ځواکونو موجودیت دی.

د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال میخایل بوگدانوف ویلي، دوی له ځینو سرچینو د ډونالډ ټرمپ له قوله داسې څرگندونې هم اورېدلې چې په خبره یې، غواړي په سیمه کې روانو ناخوالو ته د پای ټکی کېږدي او په همدې توگه په ځینو سیمو کې د خپلو پوځیانو حضور راکم کړي چې په خبره یې، دا پرېکړه کولی شي د سیمې پر وضعیت مثبت اغېز ولري. نوموړي دغه راز زیاته کړې، که څه هم دی د ټرمپ پر خبرو باور نه لري، خو ویلي یې دي چې په منځني ختیځ کې د امریکا حضور په دې سیمې کې د بې ثباتۍ لامل شوی او د امریکا په شا کېدل به سیمه له روان وضعیته وژغوري. هغه له امریکا غوښتنه کړې چې د خپلو گټو لپاره دې په سیمه کې بې ثباتي نه رامنځ ته کوي او هر څومره ژر چې کېږي له ترهگرۍ سره د مبارزې لپاره د خپلو ځواکونو ته د حضور پر ځای بدیلې او گټورې لارې چارې ولټوي.

د دغه روسي چارواکي څرگندونې داسې مهال دي چې په دې وروستیو کې په منځني ختیځ کې د دواړو لورو تر منځ ټکرونه ډېر شوي او په ځینو سیمو کې ان تر مخامخ نښتو رسېدلي دي. همدا تېره میاشت روسي او امریکایي ځواکونو څو ځلې په خپلو کې سره نښتې وکړې چې دواړو لورو ته پکې مرگ ژوبله هم اوښتې وه.

په ورته وخت کې د سوریې په شمال کې د ترکي او سوري ځواکونو تر منځ وروستیو جگړو هم د دواړو لورو تر منځ کړکېچ ډېر کړی دی. روسیه په دې جگړو کې د سوري ځواکونو هوایي ملاتړ کوي چې څو ځله یې ترکي اهداف هم په نښه کړي، خو امریکا تېره اونۍ اعلان وکړ چې د ناټو د یوه متحد په توگه به په سوریې کې له ترکیې خپل ملاتړ وکړي.

# افغان سوله؛ د ټاکنو پایلې او لنډمهاله اوربند په ازمېښت کې

**لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز**

په دې وروستیو کې د افغان سولې په اړه هغه وخت هیلې زیاتې شوې، کله چې امریکا او طالبانو د افغان جګړې پای ته رسولو په پار، د هوکړې لاسلیک کولو په اړه راپورونه ورکړل. له هغې وروسته د ولسمشریزو ټاکنو وروستۍ پایلې هم اعلان شوې چې له دولت ساز ټیم څخه محمد اشرف غني د ولسمشر په توګه بریالی نوماند اعلان شو. د ټاکنو وروستیو پایلو په اړه د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون، ډېری افغان مشرانو او په ځانګړې توګه اجرایه رییس عبدالله عبدالله ډول ډول غبرګونونه ښکاره کړل چې د خلکو تر منځ یې د راتلونکې په اړه تشویشونه پیدا کړل. د شته تشویشونو په ترڅ کې د روانې میاشتې په دربیمه نېټه افغان طالبانو او امریکایي چارواکو د تاوتریخوالي کمولو اووه ورځنۍ لړۍ پیلولو په اړه اعلامیې خپرې کړې. دا چې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې او د تاوتریخوالي کمولو اونیزه لړۍ به پر افغان سولې څه ډول اغېزې ولري، په همدې تحلیل کې پرې شننه کوو.

**افغان سوله**

د افغان سولې په اړه د امریکا او افغان طالبانو تر منځ له لسو څخه زیاتې ناستې چې شاوخوا ۱۸ میاشتې وخت یې ونیو، تر سره شوې. د هرې ناستې په تر سره کېدو سره د افغان ولس تر منځ چې له څو لسیزو راهیسې د سولې په تمه دی، د ښې راتلونکې په اړه نوې هیلې راټوکېدلې. د تېر میلادي کال په سپټمبر میاشت کې دواړو خواوو یوې نسبي هوکړې ته د رسېدو او نږدې کېدو په اړه خبرونه ورکړل، مګر کله چې طالبانو په کابل کې د یوې چاودنې پړه پر غاړه واخیسته او پر یو امریکایي عسکر سربېره، څو افغانان پکې ووژل شول، ولسمشر ټرمپ له طالبانو سره د هوکړې لاسلیک کولو لړۍ لغوه اعلان کړه. له درې میاشتنۍ ځنډ وروسته کله چې د امریکا ولسمشر افغانستان ته سفر وکړ، یو ځل بیا یې له طالبانو سره د خبرو اترو لړۍ پیلولو په اړه څرګندونې وکړې او پراخ هرکلی یې وشو. له هغې وروسته امریکا هڅه کوله څو طالبان دې ته اړ کړي چې له افغان حکومت سره خبرې اترې وکړي، مګر طالبانو یې مخالفت کاوه. په ورته وخت کې چین د افغان سولې په اړه د طالبانو او افغان سیاسي مشرانو یوه غونډه راوبلله، افغان دولت نه یوازې په یاده غونډه کې ګډون ونه کړ، بلکې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون یې نورو افغان مشرانو ته هم اجازه ور نه کړه چې په یاده غونډه کې ګډون وکړي او دا دلیل یې وړاندې کاوه چې یوازې افغان دولت کولی شي په بهر کې د افغان ولس رسمي استازیتوب وکړي، نه سیاسي څېرې.

په دوحه کې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ امریکایي هیئت او افغان طالب مشرانو سولې ته د نږدې کېدو او رسېدو په پار وخت پر وخت د ځینو پرمختګونو په اړه رسنیو ته معلومات ورکول. په پایله کې د حقاني ډلې د مخکښ غړي انس حقاني په ګډون، دوه تنه نور طالب مشران چې له افغان دولت سره له څو کلونو راپدېخوا بندیان وو، د هغو دوو تنو بهرنیانو په بدله کې چې له طالبانو سره بندیان وو، تبادله شول او د ولسمشر غني په خبره، یاد ګام کولی شي سولې ته لار هواره کړي.

مګر افغان دولت بیا وروسته له طالبانو سره د خبرو اترو له تر سره کېدو وړاندې د اوربند شرط کېښود کوم چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون، د ځینو افغان مشرانو له خوا د سولې پروسې پر وړاندې خنډ وګڼل شو.

د پاکستان بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي بیا د روان میلادي کال په جنورۍ میاشت کې د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي کمولو غوښتنې منلو په اړه څرګندونې وکړې او نوموړي دا کار د سولې لپاره یو ښه ګام یاد کړ. په داسې حال کې چې له دې وړاندې د امریکا بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو له طالبانو غوښتي وو، که په رښتیا غواړي چې خپله اراده وښیي، نو د تاوتریخوالي کمولو ته دې ژمن شي او طالبانو یې په غبرګون کې څرګنده کړه چې زیاتې غوښتنې د سولې پر وړاندې خنډونه جوړولی شي.

د قریشي له څرګندونو وروسته، د افغان طالبانو او امریکا تر منځ د خبرو اترو تر سره کېدو په لړ کې د اوربند پر ځای د تاوتریخوالي کمولو اصطلاح ډېره مخې ته راغله، کومه چې د ولسمشر غني ویاند صدیق صدیقي او د ولسمشر غني دویم معاون له خوا یوه ناڅرګنده طرحه وګڼل شوه او یوازې پر اوربند یې ټینګار درلود.

د روان میلادي کال د فبرورۍ په ۱۲مه د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ خبر ور کړ چې له طالبانو سره خبرو ته ډېر نږدې شوي یو او دې کار یو ځل بیا په لویه کچه سولې ته د رسېدو هیلې زیاتې کړې. د ناټو کلنۍ امنیتي غونډه چې په مونیخ کې تر سره شوه، ولسمشر اشرف غني پکې د امریکا بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو په ګډون، د افغان سولې لپاره د امریکا له ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد سره ولیدل او د امریکایي لوري له خوا د تاوتریخوالي کمولو په اړه لا ډېرې څرګندونې وشوې. مګر بلخوا د ناټو مشر د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي کمولو په صورت کې د ناټو ځواکونو تنظیمولو خبر ور کړ او په ښکاره یې ونه ویل چې بهرني ځواکونه به له افغانستان څخه وځي او که څنګه؟

**د ولسمشریزو ټاکنو پایلې**

د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر پنځه میاشتني ځنډ وروسته د جنجالي ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان کړې او محمد اشرف غني یې د ۵۰.۶۴ سلنې رایو په اخیستو سره ولسمشر اعلان کړ. د پایلو تر اعلان وړاندې د ثبات او همپالنې ټیم غړو د درغلۍ په صورت کې د موازي حکومت جوړولو ګوابښ کړی و، مګر کله چې پایلې اعلان شوې، د یاد ټیم مشر ډاکټر عبدالله عبدالله چې په ټاکنو کې د محمد اشرف غني مخکښ سیال ګڼل کېده، ځان ګټونکی اعلان کړ او د ټول شموله حکومت جوړولو اعلان یې وکړ. د ټاکنو پایلو په اړه پخواني ولسمشر حامد کرزي او ځینو نورو افغان مشرانو غبرګونونه وښودل او ټاکنې یې د ولسواکۍ پر ضد او د سولې پر وړاندې خنډ یاد کړ. هغه څرګنده کړه چې په اوس وخت کې افغانان سولې ته اړتیا لري، نه دغه ډول تتو ټاکنو ته چې کم شمېر افغانانو پکې ګډون وکړ.

د کویټ او هند مشرانو او د اروپایي اتحادیې له یو غړي پرته، د پایلو تر اعلان وروسته هیڅ کوم هېواد د پایلو مبارکۍ ښاغلي محمد اشرف غني ته ور نه کړه، اروپایي اتحادیې په راتلونکې کې له افغان دولت سره د مرستې تر سره کېدو او ګډ کار هیله څرګنده کړه چې د عبدالله عبدالله له سخت غبرګون سره مخ شوه.

د ټاکنو پایلو د افغان ولس تر منځ یو لړ تشویشونه را ولاړ کړي وو او هیڅوک نه پوهېدل چې څه به کېږي؟ ځکه په شمال کې د عبد الله عبدالله د ټیم غړي رشید دوستم په ډاکټر عبدالله عبدالله غږ وکړ چې په شمال کې خپل والیان وټاکي او د افغانستان اوسنی بد وضعیت ته په کتو دا ډول کارونه تر سره کول د یوې خطرناکې معاملې څرګندویي کولی شي، چې افغان مشران باید پاملرنه ور ته وکړي، ځکه د سیاسي ځواک ویشل کولی شي د ولس وېشلو ستونزه هم زیاته کړي، هغه څه چې وخت پر وخت یې بهرنیان او په ځانګړې توګه امریکایي چارواکي په خپلو خبرو کې ذکر کوي.

**د تاوتریخوالي لړوالي اونۍ**

د تېرې جمعې په ورځ طالب او امریکایي لوري د تاوتریخوالي کمولو اووه ورځنۍ لړۍ پیلولو په اړه څرګندونې وکړې. طالبانو او افغان دولت خپلو ځواکونو ته امر کړی چې په یادو ورځو کې حملې ونه کړي او دفاعي حالت غوره کړي او طالبانو په ورته حالت کې مخابراتي شبکو ته د ۲۴ ساعته خدماتو وړاندې کولو اجازه هم ور کړه.

مګر افغان دولت بیا څرګنده کړه چې ځواکونه به یې یوازې د طالبانو پر وړاندې په دفاعي حالت کې قرار ولري او د داعش په ګډون، د بهرنیو تروریستي ډلو پر وړاندې به خپلو حملو ته دوام ورکوي. په دغسې حالت کې چې له یوې خوا د تاوتریخوالي کمولو لړۍ چې د سولې پر وړاندې یو ښه پرمختګ ګڼل کېږي، کوم چې د امریکایي لوري د زیاتو غوښتنو برخه ده او بلخوا د بهرنیو تروریستي ډلو په نوم د حملو دوام چې په اوس کې د افغانستان لپاره ستر ګواښ نه ګڼل کېږي، کولی شي د سولې راتلونکې پړاوونه له ستر خنډ سره مخ کړي؛ ځکه په هېواد کې د ننه او بهر ځینې کړۍ شته چې په جګړو کې یې ګټې نغښتې دي او هغوی به هڅه کوي چې د سولې دغه لړۍ سبوتاژ کړي او دا کار بیا د اړوندو اړخونو تر منځ بې باوري زیاتولی شي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو څرګندونې درلودې، چې ویلي دي د تاوتریخوالي لړۍ پیلول د سولې اوږدمهالي واټن کې یو ګام اخیستل دي، او د دې تر څنګ په کابل کې د امریکا شاژدافیر راس ویلسن بیا د تاوتریخوالي کمولو په لومړۍ ورځ په خپل ټویټر د تاوتریخوالي کمول یو ښه ګام بللی؛ مګر زیاته کړې یې ده چې ډېر کار ته اړتیا لیدل کېږي. له دې څرګندونو ښکاري چې لا هم په نږدې راتلونکې کې د سولې څرک نه ښکاري او ډېر کار ته اړتیا لیدل کېږي.

**پایله**

په داسې حال کې چې امریکا له افغان طالبانو سره د سولې خبرو اترو کې د پرمختګ خبر ورکوي، په کور د ننه د ټاکنو پایلو پر سر د ملي یووالي حکومت مشران له سختو جنجالونو سره مخ دي. دغه ډول جنجالونه کولی شي د سولې پر وړاندې ملي اجماع کمزورې کړي او یو لړ ستونزې یې پر وړاندې رامنځ ته کړي. اړینه ده چې د ټاکنو پر سر جنجالونه او سیالۍ د اوس لپاره پرېښودل شي او د سولې په برخه کې چې د ټولو افغانانو ستره هیله ده، کار وشي.

د تاوتریخوالي کمولو اونۍ په لړ کې باید ټول اړخونه خپلو ژمنو ته وفادار پاتې شي. د سیمې هېوادونه او نړیواله ټولنه باید د بې باورۍ فضا له منځه وړلو کې له افغان ولس سره مرسته وکړي او هغه کړۍ رسوا کړي چې غواړي د خپلو ګټو لپاره د تاوتریخوالي کمولو او د سولې روانه لړۍ له بې باورۍ سره مخ کړي.

اړینه ده چې افغان مشران د ټاکنو پایلو پر سر د اړوندو ټیمونو تر منځ د دربیم ګرېټوب رول ولوبوي او د موازي حکومت جوړولو تر څنګ، د هر ډول بغاوت او هغو کړنو مخنیوی وکړي کوم چې د سولې پر وړاندې خنډ جوړوي. که د ټاکنو پایلو پر سر د جنجالونو لړۍ همداسې دوام پیدا کړي، لرې نه ده چې د سولې روانې هیلې به له منځه ولاړې شي او جګړې به لاپسې زور واخلي.

# سوله او ټاکنیزې ناندرۍ؛

## افغان سیاستوال د رامنځ ته شوي وضعیت د کابو کولو لپاره هڅې کوي



افغان سیاستوال په هېواد کې د روان وضعیت په اړه اندېښنه لري. وروسته له دې چې د ټاکنو وروستۍ پایلې اعلان شوې، په یو شمېر ولایتونو کې اعتراضونه پیل شوي دي او اعتراض کوونکي پایلې نه مني. له دې سره جوخت ځینې سیاستوال بیا په هېواد کې پر روان وضعیت اندېښنه ښیي او په خبره یې د روان وضعیت د کنټرول لپاره باید جدي اقدامات وشي. له دې سره جوخت د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له یو شمېر سیاسیونو سره کتلي او له دوی یې غوښتي چې د سولې لپاره خپل اعتراضونه پای ته ورسوي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون له اوږده ځنډ وروسته د ټاکنو پایلې داسې مهال اعلان کړې چې په هېواد کې د سولې لپاره هڅې یوې مهمې مرحلې ته رسېدلې دي. د پایلو دغه اعلان په هېواد کې یو بل کشمکش راپیدا کړ او اوس افغان سیاسیون او امریکا وېره لري چې ښایي دغه کشمکش د سولې هڅې زیانمنې کړي. له دې سره جوخت یو شمېر سیاستوال هم اندېښنه لري چې روان وضعیت د خلکو په ګټه نه دی او د دې اړتیا ده چې د ثبات راوستو او سولې لپاره عملي او کوټلي ګامونه اوچت شي.

یوشمېر سیاسیونو په کابل کې له یو بل سره لیده کاته کړي او د روان وضعیت د سمولو لپاره یې پر حللارو خبرې کړې دي. د ثبات او همپالنې ټیم یو شمېر غړو له پخواني ولسمشر حامد کرزي سره کتلي دي او له هغه سره یې د ټاکنو په اړه پر رامنځ ته شوي کړکېچ خبرې کړې دي. له دې سره جوخت پخواني ولسمشر له جهادي شخصیت استاد عبدالرب رسول سیاف سره هم کتلي او د سولې په اړه یې بحثونه کړي دي. دواړو لورو د ټاکنو له امله د رامنځ ته شوي کړکېچ د ختمولو په اړه هم خبرې کړې او ټینګار یې کړی چې رامنځ ته شوې ناندرۍ باید ختمې شي.

له دې سره جوخت د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي له څو سیاسي څېرو سره لیده کاته کړي دي. له دې ډلې نوموړي د ولسمشر له دویم مرستیال جنرال دوستم سره کتلي او له هغه یې غوښتي چې د سولې لپاره خپل اعتراضونه وځنډوي. د جنرال دوستم ویاند وایي، چې دوستم په دې تړاو د ثبات او همپالنې ټیم لارښوونې ته په تمه دی. د ده په خبره، دا ځل دوی اجازه نه ورکوي چې په تقلبي رایو یو حکومت واک ته ورسېږي او پر خلکو واک وچلوي.

افغان سیاسیون هم وایي چې روان وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی. د دوی په خبره، د سولې هڅې له اوږدې مودې وروسته یوې پایلې ته رسېدلې او د دې وخت دی چې د ټاکنو مسئله دا هڅې زیانمنې نه کړي. د سیاسي مسایلو شنونکی شهزاده مسعود وایي: «موږ له اوله د ټاکنو په اړه خپله اندېښنه لرله، اوس دا اندېښنې ډېرې شوې دي، باید د حل یوه دایمي لار ورته پیدا شي څو دلته روانې ناندرۍ ختمې شي».

د ملي پیوستون نهضت مشر سید اسحاق ګیلاني بیا وایي، اوس د خلیلزاد دنده ده چې د یوه موقت او بې طرفه حکومت په مرسته روان کړکېچ ختم کړي. د ده په خبره: «دا دنده خلیلزاد ته ورسپارل شوې چې کړکېچ ختم کړي، نو هغه دې یو بې طرفه او موقت حکومت جوړ کړي».

له دې سره جوخت په ګڼو ولایتونو کې د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې اعتراضونه روان دي. د دې ډلې غړی محمد محقق وایي، چې ولسمشر غني باید له حکومته لاس پر سر شي؛ ځکه طالبان سوله نه ورسره کوي او رایې یې هم نه دي ګټلې.

له دې اندېښنو سره سره د ملي یووالي حکومت چارواکي وایي چې ژر به د ولسمشر د تحلیف مراسم ترسره شي او ښایي د روانې اونۍ په پای کې د تحلیف مراسمو تر ترسره کېدو وروسته نوی حکومت خپل کار پیل کړي.

## د کتـــاب خبــرې

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

## له زرین فرصته ګټه اخیستل




یوه ورځ یوه کس وویل، نهیلي پرته له ځانه د ملامتولو لپاره بل څوک نه لرل دي. خو څوک چې په ملامتولو پسې ډېر ګرځي، هغوی ته زرین فرصتونه هم لږ لاس ته ورځي او هغه لږ فرصتونه چې ورځي، هغه یې هم زیاتره وخت له ګوتو وزي. دا کار چې وشي، نو له هغوی به واورئ چې وایي به ولې او څنګه زما ګناه نه وه، د دوی پلمې په دریو کټګوریو کې راځي:

- لومړی هغه دي چې د ژوند حالات ملامتوي .
- دویم هغه دي چې تېرې شخصي ستونزې او دردونه ملامتوي ؛ او
- درېیم هغه دي چې د خپل مخنیوي په تور نور ملامتوي .

که غواړئ چې نور باور درباندې وکړي او تاسو ډېر څه ترلاسه کړئ، نو باید د خپلو چارو او فعالیتونو مسئولیت واخلئ. چرچېل رښتیا ویلي وو چې مسئولیت د سترتوب بیه ده. دا د فرصت اساس دی.

### ۲. فردي نظم رامنځته کړئ!

د یوې څېړنې پایلې ښیي، د کاروبار ۸۲ سلنه مشرانو دا منلې چې په ګلف لوبه کې یې درغلي کړې ده او ۷۲ سلنه یې پر دې نظر دي چې په کاروبار او ګلف دواړو کې د دوی چارې سره موازي دي. (۲) خلک ولې داسې کوي چې ژوند او کار ورته موازي ښکاري؛ خو بیا هم درغلي پکې کوي. زه فکر کوم ځواب یې د فردي نظم او ډسپلین کمی دی. کوم خلک چې فردي نظم او ډسپلین نه شي رامنځته کولای، نو زیاتره وخت ټګي برګي کوي.
د جاکسون براون په وینا:((بې نظمه وړتیا داسې ده لکه بحري ژوي ته چې د ټایرونو بوټان ور پښو شوي وي. خوځېږي به؛ خو پر دې به نه پوهېږي چې مخکې، وروسته او که څنګ ته ځي.))
د نولسمې پېړۍ روحاني شخصیت او د اکسفورډ پوهنتون استاد ایچ پي لیدون ویلي:((په یوه لوی مناسبت کې لوی کار کول په دې پورې اړه لري چې موږ اوس څه یو. او نن چې څه یو دا به زموږ د تېرو کلو د ځاني نظم او ډسپلین پایله وي.))
په یوه لوی مناسبت کې لوی کار کول په دې پورې اړه لري چې موږ اوس څه یو. او نن چې څه یو دا به زموږ د تېرو کلونو د ځاني نظم او ډسپلین پایله وي.

**ایچ پي لیدون**

څوک چې د خپل کرکټر وده او د بریا د چانسونو زیاتول غواړي، باید په لاندې مواردو کې په ځان کې نظم او ډسپلین رامنځته کړي:

- **وخت**

د وخت تېرېدل ستاسو په کنټرول کې نه دي؛ خو دا کنټرول پرې لرئ چې څنګه او په څه یې تېر کړئ.

- **انرژي**

تاسو باید تل هڅه وکړئ چې خپل قوت په خپلو قوتونو وکاروئ.

- **موخې**

تاسو هر څه نه شئ کولای، نو ځان باید داسې منظم کړئ چې مهم او اړین کارونه وکړئ.

- **وضعیت**

که تاسو پر خپلو احساساتو واکمن نه شئ، نو احساسات به پر تاسو واکمن شي.
بریالي خلک هغه دی چې له نورو سره ښه کار کوي او له ننګونو او فرصتونو خوند اخلي. دا خلک نظم و ډسپلین ته په منفي سترګه نه ګوري. دوی ښه راغلاست ورته وایي. د ورزش روزونکي وینس لومباردي ویلي:((ما تراوسه په خپل کار کې تر ډېره داسې تکړه کس نه دی لیدلی چې د زړه له تله یې د سختو هلو ځلو او نظم یا ډسپلین درناوی نه وي کړی.))

### ۳. خپلې کمزورۍ وپېژنئ!

یوه ورځ ویلیم بیبي طبیعت پرست د امریکا د ولسمشر تیودور روزویلېټ مېلمه و او د ولسمشر کور په ساګامور غرونو کې و. یو ماښام دواړه له کوره بهر را ووتل. روز ویلېټ له ستورو ډک اسمان ته کتل او د وزر لرونکي اس په څنډه کې یې یوه کوچنۍ رڼا لټوله. بیا یې وویل:((دا تاوراتاو اندرومیډا کهکشان دی، دا هم زموږ د کهکشان هومره لوی دی. سلګونه زره بیلیونه لمرونه لري او دا په زر بیلیونه کهکشانونو کې یو دی.)) بیا یې بیبي ته وکتل او وې ویل:((له دې معلومه شوه چې موږ ډېر واړه یو، راځئ چې ویده شو.)) ۳
روز ویلېټ به د شیانو په اړه ډېر پراخه فکر کاوه او د دې یو لامل یې خپل ځان او خپلې کمزورۍ پېژندل وو. ما په خپل یوه کتاب کې ویلي چې روز ویلېټ په ماشومتوب کې ډېر کمزوری او وچ کلک و. دې ته په کتو یې خپل ټول قوت د خپل ځان قوي کولو لپاره وکاراوه. د کاو بوای لوبه یې وکړه، په ځنګل کې یې ښکارونه وکړل او د جګړې په ډګر کې د زړور سرتېري په توګه وجنګېده. د دې تر څنګ یې د سوک وهنې لوبه هم وکړه. په دې توګه یې ځان له یوه کمزوري ماشومه په یوه قوي ولسمشر بدل کړ.
که له خطره ځان خبروئ، نو وسله له لاسه مه غوځوئ. څوک چې په خپلو کمزوریو خبر وي، له ناڅاپي حالاتو سره لږ مخ کېږي. دوی څوک نه پرېږدي چې له ضعف او کمزورۍ یې ګټه واخلي.
کوم خلک چې ځان تېرباسي، یا داسې فرض کوي چې زه ګنې ډېر تکړه یم، دا خلک له ماتې سره د مبارزې لپاره هېڅ تیاری نه لري.

دوام لري...

# ویتنام

حشمت الله نوري



ویتنام په جنوب- ختیځه آسیا کې د جنوبي چین سیند او تونکن او ټایلنډ د خلیجونو په منځ کې د شمالي عرض البلدونو د ۱۰ او ۲۵ درجو او د ختیځ طول البلدونو د ۱۰۳ او ۱۰۹ درجو تر مینځ موقعیت لري، چې ټولټال یې پراخوالی ۱۲۷۸۱۸ میل مربع ته رسېږي او له دې پلوه د نړۍ ۵۹م لوی هېواد بلل کېږي.
د ویتنام شمال ته د چین ولسي جمهوریت، جنوب ته د جنوبي چین سیند،ختیځ ته د جنوبي چین سیند او لوېدیځ ته یې لاوس او کمبودیا هېوادونه موقعیت لري.
له هغه ځایه چې ویتنام له سیندونو سره اوږده پوله لري او په استوایي سیمه کې پروت دی، نو هوا یې توده او لنده ده. د تونکن د خلیج بخار چې د فبروري او مارچ په میاشتو کې د ویتنام څنډو ته رسېږي، د دغه هېواد په شمالي او منځنیو برخو کې د اوربښت کچه ډېروي. د دغه هېواد هغه غرونه چې د هېواد له شمال- لوېدیځ څخه جنوب- ختیځ ته غځېدلي دي، د دغه هېواد لوېدیځو غرنیو سیمو ته د سمندري لندو بادونو د ننوتلو مخه نیسي.
د دغه هېواد پلازمېنه د هانوي ښار دی او دغه راز ټولټال څه باندې ۹۵ میلیونه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې یې ۲۹۰ کسان ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر د دوو ماشومانو د درلود حق لري.
ویتنام له اداري پلوه پر ۵۸ ولایتونو وېشل شوی دی. هوچي من، ستي، هایفوک نهاترانګ، چولون، نینبین او کانتودي د دغه هېواد لوی او مهم ښارونه دي.
د دغه هېواد نوی اساسي قانون د ۱۹۹۲ ز کال د اپریل په ۱۵مه نافذ شوی او د دغه هېواد اوسنی ولسمشر نګوین فو ترونګ دی.
د ویتنام ولسمشر د دغه هېواد د ولسي جرګې د غړو له منځ څخه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي. د دغه هېواد لومړی وزیر د ولسي جرګې د غړو له منځ څخه د ولسي جرګې په خوښه او د لومړي وزیر مرستیالان او وزیران د لومړي وزیر په وړاندیز د ولسي جرګې په خوښه ټاکل کیږي.
د دغه هېواد د ولسي جرګې ۵۰۰ غړي د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي. په دغه هېواد کې د رایې ورکولو عمر ۱۸ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.
د ویتنام حقوقي نظام د کمونیزم پر حقوقي تیوري او د فرانسې پر مدني قانون ولاړ دی. د دغه هېواد لوړ قضایي ارګان ستره خلقي محکمه ده چې قاضی القضات یې د ولسمشر په وړاندیز د پنځو کلونو لپاره د ولسي جرګې له خوا ټاکل کیږي.
دغه هېواد د ۱۹۴۵ ز کال د سپټمبر په دویمه له فرانسې څخه خپلواکي اخیستې او اوس هر کال همدا ورځ د خپلواکۍ د ورځې په نوم پکې نمانځل کېږي.
ویتنام یو ښوزله هېواد دی او په تېره یوه نیمه لسیزه کې یې دغه درې اساسي ستونزې درلودې: د فرانسې او امریکا پر ضد د څو لسیزو د اوږدې جګړې د تپونو رغول، د شوروي بلاک د هېوادونو د مالي مرستو بندېدل او د مرکزي پلان د اقتصاد د سختو شرایطو کمول. د ویتنام د اقتصاد اساسي پرمختګ ۲۵ کاله مخکې په ورو ګامونو پیل شو، له ۱۹۸۶ تر ۱۹۹۷ ز کلونو لومړنیو پرمختګونو ښه پایله درلوده. اقتصادي پراختیا په مخ وخوځېده او ښوزلي تر ډېره تر کنټرول لاندې راغله. له ۱۹۹۳ تر ۱۹۹۶ ز کاله اقتصادي پرمختګ ۹ سلنه شو، دا اقتصادي پراختیا په ۱۹۹۷ ز کال کې نوره هم ګړندۍ شوه، صنعتي تولیدات ۱۲ سلنه او ناخالص کورني تولیدات ۹ سلنه زیات شول. دې کار اقتصادي اجراتو ته یې زیان هم ورساوه او دولت یې دې ته اړکړ چې په اقتصادي تګلارو کې بدلونونه راولي او د مارکېټ د اقتصاد خوا ته مخه کړي. په دغه وخت کې ډېر کورني تولیدات لکه د ډبرو سکاره، سیمنټ، اوسپنه او کاغذ له بهرنیو مولدینو سره په سیالي کې په ګدامونو کې ناخرڅ پاتې شوي وو، ځکه هغه وخت چې ویتنام ته اقتصادي مرستې او په دغه هېواد کې بهرنۍ پانګې اچونې زیاتې شوې، دغو هېوادونو نه شوی کولی چې خپل زیاتېدونکي واردات تمویل کړي.
په همدې وخت کې ویتنامي مشرانو په خپلو اساسي بنسټونو کې د اقتصادي ریفورم تطبیق ته ورو ورو دوام ورکړ او هڅه یې وکړه چې خپل اقتصاد ته نوې ساه ورکړي او د خپلو صادراتي صنعتي تولیداتو رقابتي وړتیا زیاته کړي. په دغه هېواد کې دولتي شرکتونو او د تصدیو خصوصي کول د سیاسي کړکېچونو له امله له ستونزو سره مخ شول او د هېواد د اقتصاد د پیاوړي خصوصي سکټور مالکینو له نور کار سره خپله مینه له لاسه ورکړه، خو سیاسي بدلونونو په ۲۰۰۰ تر ۲۰۰۴ ز کال کې اقتصادي وده هم وکړه او پرمختګ ۷ سلنه ته لوړ شو. د ۲۰۰۴ ز کال په اخر کې د ویتنام دولت لوړه وکړه چې د اقتصاد خصوصي کولو او د سوداګرۍ نړیوالو نورمونو ته به وفادار پاتې شي. د دې لپاره دوی د اصلاحاتو نوي کولو او داسې تولیداتو ته اړتیا درلوده چې په نړیوالو مارکیټونو کې سیالي وکړای شي. د امریکا له متحده ایالاتو او نورو هېوادونو سره د نویو سوداګریزو تړونونو لاسلیک د ویتنام د صادراتو له پراختیا سره ډېره مرسته وکړه. له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۳ ز کال کې هر کال امریکا ته د ویتنام صادرات دوه برابره زیات شول. په ۲۰۰۵ ز کال کې د ویتنام چارواکو هڅه وکړه چې د سوداګرۍ د نړیوالې ټولنې غړیتوب تر لاسه کړي. ویتنامیان غواړي چې د دې ټولنې له لارې به د خپلو توکرانو او جامو د صادرولو لپاره ښه بازارونه ومومي. ویتنامیان همدا شان هڅه کوي چې د هېواد د مالي چارو مسوولین دې ته اړ کړي چې په مالي تګلارو نوې کتنه وکړي او د انفلاسیون اندازه د عامو خلکو په ګټه را ټیټه کړي.
خوراکي توکي، جامې، بوټ، ماشین جوړول، کانونه ایستل، د ډبرو سکاره، اوسپنه، سیمنټ، کیمیاوي توکي، ګیلاس، تیل او کاغذ د دغه هېواد مهم صنعتي توکي دي.
د ویتنام ۲۱ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، د دغه هېواد پاتې خاوره څړځایونو، ځنګلونو، غرونو، بیدیاوو، سیندونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده.
د ویتنام ۵۳ سلنه خلک د کرنې او ځنګلونو په سکټور کې پر کار بوخت دي او د دغه هېواد ۲۰ سلنه ناخالص کورني تولیدات له همدې سکټور څخه لاس ته راځي. لرګي، وریجې او نور حبوبات، جوار، سویا، کچالو، قهوه، چای، مرچ، ګنې، پنبه، تنباکو، کېلې او نور میوې، سابه، غوښه، لبنیات او هګۍ د دغه هېواد مهم کرنیز محصولات بلل کیږي.
د دغه هېواد ستر تجارتي شریکان چین، جنوبي کوریا، جاپان او د امریکا متحده ایالات دي. دغه هېواد له ۵۰۰ زیاتې تجارتي بېړۍ او ۴۴ هوایي ډګرونه لري چې ۳۸ یې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.
همدارنګه د دغه هېواد د ټلیفون کود ۰۰۸۴ او د انټرنېټ کود یې VN دی، چې د نفوس زیاته سلنه یې ورته لاسرسی لري.
په ویتنام کې ټولې رسنۍ د اطلاعاتو او مخابراتو وزارت له خوا کنټرولېږي. دغه هېواد نهه ټلوېزیون چینلونه لري.
دغه هېواد د ناخالص کورني تولید او سړي سرکلني عاید د پرله پسې ډېرښت له امله، د آسیا یو ګړندی پرمختلونکی هېواد بلل کیږي. په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه پورته ټول خلک پر لیک او لوست پوهیږي.
په ویتنام کې زده کړې د ۱۴ کلونو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره وړیا او جبري ده. په دغه هېواد کې زده کړه د دولت او خصوصي سکټور دواړو له خوا په مخ بیول کیږي.
ویتنام ډېر لرغونی تاریخ لري او تل د چینایي او هندي قومونو د تقاطع ځای و. له میلاد څخه پنځه پېړۍ مخکې چینایانو د ویتنام خاوره ونیوه او د دغه هېواد په دریو برخو کې یې ځینې سیمې تر خپلې څارنې لاندې راوستې او درې واکمنۍ یې جوړې کړې. په ۳۹م ز کال کې د ترونګ د خویندو په مشرۍ د چینایي سلطې په وړاندې پاڅونونه پیل شول، د ویتنام د خلکو له پرله پسې بغاوتونو سره سره پر دغه هېواد باندې د چین سلطه تر ۱۰مې پېړۍ پورې پر ځای پاتې شوه. په ۹۰۷م ز کال کې د آنام په سیمه کې د نګوکوین په مشرۍ د ویتنام لومړنۍ خپلواکه پاچایي جوړه شوه. په ۱۹۱۱ ز کال کې د هند، چین او فرانسوي مشر د ویتنام د ژر خپلواکۍ وعده وکړه. په ۱۹۳۰ ز کال کې د هند او چین کمونیست ګوند جوړ شو. په ۱۹۴۰ ز کال کې جاپانیانو د هند او چین د ټاپووزمې اداره په لاس کې واخیسته. په ۱۹۴۵ ز کال کې مخکې له دې چې جاپان په دویمه نړیواله جګړه کې پوره ماتې وخوړه، د آنام مشر یې د ټول ویتنام تش په نامه ویتنامي مشر وټاکه. د جاپان له ماتې وروسته، بیا فرانسویان پر هند او چین واکمن شول. د هند او چین د سیمې خپلواکي غوښتونکو مشرانو او نورو سازمان جوړ او د فرانسویانو پر ضد یې سیاسي او پوځي کمپاین پیل کړ. د ۱۹۴۵ ز کال د اګست په ۱۶مه د جنرال جیاپ پوځي ټولګیو تقریباً د ټول ویتنام خاوره تر خپلې ولکې لاندې راوسته او د همدغه کال د ډسمبر په دویمه نېټه د ویتنام د ډیموکراټیک جمهوریت جوړېدل اعلان شول. فرانسې د هند او چین د فرانسوي اتحادیې په چوکاټ کې نوی خپلواک دولت په رسمیت وپېژانده. د ۱۹۴۶ ز کال په نومبر کې فرانسوي پوځیانو چې تر دې دمه یې په ویتنام کې اډې درلودې، د فونګ ښار بمبار کړ او ډېر خلک یې ووژل.
امریکا او ویتنام د ۲۰۰۶ ز کال د جون په پنځمه پرېکړه وکړه چې خپلې اړیکې نورې هم پیاوړې کړي. په ۲۰۰۹ ز کال کې ویتنام امریکا ته لس بلیون ډالره صادرات درلودل او امریکایي شرکتونو په ویتنام کې څلور بلیون ډالره پانګه پر کار اچولې وه. ویتنام هغه هېواد دی چې د تېرې پېړۍ وروستي نیمایي کلونه یې په راز راز جګړو کې تېر کړل او اوس پر یو سوله ییز هېواد بدل شوی او د خپل اقتصادي او ټولنیز پرمختګ پر لور اوچت ګامونه اخلي.
د افغانستان او ویتنام تر منځ لومړنۍ سیاسي اړیکې د ۱۹۷۴ز کال د سپټمبر په ۱۶مه جوړې شوې دي. په افغانستان کې د ثور له کودتاه وروسته، دواړو هېوادونو په هانوي کې د سفارتونو په سویه د اړیکو هوکړه لاسلیک کړه. په هانوي کې د افغانستان سفارت په ۱۹۸۴ ز کال کې پرانیستل شو او عبدالوکیل هلته د افغانستان لومړنی سفیر و.
په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله د حکومت له پرځېدو وروسته، د افغانستان او ویتنام اړیکې هم پای ته ورسېدې چې تر اوسه بېرته نه دي احیا شوې.
له افغانستان څخه تر ویتنام پورې د هوا له لارې فاصله ۴۶۳۶ کیلومتره او همدا راز د کابل او هانوي ښارونو تر منځ د وخت توپیر ۲:۳۰ ساعته دی.

همیانۍ

# ډېره مطالعه د انسان ذهن پراخوي

ژباړه: نقیب آرمل

د ځمکې پر سر د هرې موضوع په اړه کتاب لیکل شوی، چې د ضرورت په وخت کې کولای شی ترې ګټه واخلئ او مطالعه یې کړئ. ځکه د کتاب لوستل له تاسو سره د موضوع په روښانه کولو کې مرسته کوي. په کتابونو کې داسې معلومات نغښتل شوي وي، چې ډېر کله په صنف کې د استاد له خولې نه راوځي او یا هم پرې بحث نه کېږي. مطالعه د انسان معلومات زیاتوي او د انسان د خبرو کولو مهارت پیاوړی کوي. مطالعه د هر انسان لپاره ډېره مهمه او ارزښتناکه ده. مطالعه د انسان شخصیت جوړوي، هرڅه چې غواړې په کتاب کې یې تر لاسه کولای شی. پوهان وایي چې تر ټولو ښه ملګری کتاب دی.

په یاد به مو وي چې پخوا به مو څه ډول د یوه لغت اصلي مانا زده کوله او یادوله به مو؟ همدا د کتاب ګټه ده، چې اوس په ډېرې اسانۍ سره کولای شی په ډېر کم وخت کې د یوه لغت مانا پیدا کړی. په ځانګړې ډول کله چې تاسو لوی لوی کتابونه مطالعه کوی له ډېرو نویو لغتونو سره اشنا کېږی، چې په زده کولو سره مو یې لغوي پانګه زیاتېږي. مطالعه تاسو ته دا چانس درکوي چې د نړۍ له بېلابېلو فرهنګونو او جغرافیو سره اشنا شئ.

د رخصتۍ د تېرولو لپاره مو د خوښې وړ ځای کوم دی؟ له تاسو یې باید په اړه مخکې له مخکې مطالعه وکړئ، څو هغه ځای ته په ورتلو سره پوره خوند واخلئ. څومره چې مطالعه کوی، په هماغه اندازه مو ذهن هم پراختیا مومي.

مطالعه تاسو ته دا ورتیا درکوي چې له نورو فرهنګونو سره په اجمالي توګه معرفي شی، تاسو به په دې توګه له نورو سیمو سره بلد شی، د خپلې تفریح لپاره د ځای په ټاکلو کې به کومه ستونزه نه لری. ستاسو د لید زاویه د هغو فرهنګونو او سیمو په اړه د مطالعې پر مټ بدلېدلی شي، چې د لیدو هیله یې لری.

لکه مخکې مو چې اشاره وکړه، مطالعه له ذهني قوې ګټه اخلي، دا به د دې سبب شي څو د هغه څه په اړه چې مطالعه کوی یې ستاسو تمرکز لوړ کړي. مجلې، مقالې یا ستاسو انټرنیټي ایمل کولی شي په خپل ځان کې مهم معلومات ولري، خو کتابونه کولی شي سترې کیسې او پېښې را واخلي، خو هر څه چې وي، تاسو اړ یاست چې تمرکز مو لوړ وي، نو مطالعه د تمرکز د لوړولو لپاره د سپورت په څېر ده.

که چېرې ډېر کتابونه مطالعه کړی، د هغه څه په اړه چې مطالعه کوی، ستاسو تجربه او پوهه به لوړ وي او دا به د دې سبب شي چې پر ځان مو باور لوړ شي، نو دا چې تاسو ښه مطالعه کوی خلک به د دې هڅه وکړي، چې د خپلو پوښتنو ځواب له تاسو واخلي، تاسو به هغوی د ځان پر لور راجذب کړی، دا خبره د دې سبب کېږي چې تاسو ښه احساس ولری او خپل شخصیت دروند او د کار وړ درته ښکاره شي.

څېړنو ښودلې ده که تاسو له خپلې حافظې کار واخلی، نو هغه به پیاوړې شي او که خپله حافظه ونه کاروی، نو خپلې ورتیاوې به له لاسه ورکړی، د ځینو لوبو په تېره بیا د جدولونو لوبول د الزایمر د ټيټېدو سبب ګرځي، خو هغه لوبې چې په هغه کې تر ډېره کلمې او جملې کارول کېږي، ستاسو د حافظې قوت لوړولی شي، نو مطالعه هم هغو لوبو ته ورته ده چې په هغه کې کلمې او جملې کارول کېږي او تر ډېره تاسو ته دا ورتیا درکوي چې د کرکټرونو نومونه، پېښې او ډېر څه نور په یاد ولری.

ټول د مطالعې په ارزښت پوه یو او پوهېږو چې باید په خپل ورځني ژوند کې باید د مطالعې لپاره وخت ولرو، خو څوک دا کار کولی شي یا یې کوي؟ خبره همدلته ده، که موږ مطالعې ته په خپل ورځني ژوند کې وخت ورکړو، دا به د دې سبب شي چې فردي انظباط او نظم مو لوړ شي.

کتابونه د لېږد وړ دي، دا چې کولی شی هر ځای له ځان سره کتابونه یوسی، نو دا ورتیا هم لری چې په هر ځای کې یو څه زده کړی.

دا چې کله له ډېرو کتابونو سره مخ شی او د ډېرو معلوماتو پر وړاندې ودرېږی، نو دا څه په د دې سبب شي چې خلاقیت مو لوړ شي او نوي شیان مو ذهن ته درشي، ستاسو ذهن کولی شي د بېلو کتابونو له معلومات سره یو ځای کړي او د یوې مسئلې په حللاره کې له هغه کار واخلي.

ایا تر اوسه داسې پېښ شوي چې د کورنۍ د غړو، مېرمنې او یا هم د دوستانو په منځ کې د ویلو لپاره څه ونه لری؟ دا ډېره دردونکې ده. دغه څه ډېر کله کولای شي چې یو لړ کورنۍ ستونزې هم پیدا کړي، ځکه که تاسو په کور کې پټه خوله کېنی، کېدای شي د کورنۍ له غړو، مېرمنې او یا هم شاوخوا خلکو ته ځینې پوښتنې پیدا شي. که تاسو ډېر کتابونه لوستي وي، تل به د ویلو لپاره په ذهن کې یو څه لری او دا د دې سبب ګرځي چې تاسو په خبرو راولي.

داسې کسان شته چې د فلمونو او د هغو د وسایلو لپاره زیاتې پیسې خرچ کوي، خو کولای شی له دې نه په کمو پیسو باندې څو کتابونه واخلی، چې ان تر دوو میاشتو پورې پرې مصروف وی. هڅه وکړئ چې د ځان لپاره داسې کتابونه واخلئ چې علاقه مو ور سره وي.

د مطالعې او رسمي زده کړو تر منځ توپیر دا دی، چې په رسمي زده کړو کې ته مجبور او مکلف یې، چې هره ورځ د سهار له ۸ د ماسپښین تر ۲ بجو پورې په درسي صنف کې کېنې، خو مطالعه تاسو ته دا چانس او یا واک درکوي چې څه وخت مو زړه وغواړي کولای شی د خپلې خوښې وړ شی مطالعه کړی.

څومره چې تاسو کتابونه مطالعه کوی، په هماغه کچه مو ذهني ورتیا هم لوړېږي او له نورو سره د نظر په تبادله کې له تاسو سره پوره مرسته کوي، چې په ډېر دقت سره ور سره خپل معلومات شریک کړی. ډېر کله داسې کېږي چې تاسو د یوه څه په اړه پلټنه کوی، خو مخې ته مو ډېر نور څه هم درشي چې یو څه ور ځخه زده کړی.

# سرچینې: د ولسمشر د لوړې مراسم به د روانې اونۍ په پای کې تر سره شي



په داسې حال کې چې د ټاکنو د وروستیو پایلو پر سر نانډرۍ ورځ تر بلې د ډېرېدو په حال کې دي، تازه یوې حکومتي سرچینې رسنیو ته ویلي چې د منتخب جمهور رییس د لوړې مراسمو د تر سره کولو لپاره یوه ځانګړې دولتي کمېټه جوړه شوې ده.

دغې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط مسیر ورځپاڼې ته وویل چې ښایي د جمهور رییس غني د لوړې مراسم تر راتلونکو دریو- څلورو ورځو تر سره شي.

په ورته وخت کې د سیمه ییزو ارګانونو اداري ویاند سید شاه سقیم هم امریکا غږ ته ویلي، چې د دې اداري رییس عبدالمتین بیګ د لوړې مراسمو د تر سره کولو د کمېټې مشري کوي او په دې برخه کې یې مقدماتي غونډې پیل کړې دي.

سقیم زیاته کړې: «کمېټه تشکیل او تنظیم شوې ده، ژر به پرتمین مراسم جوړ شي، خو کره نېټه یې لا نه ده مشخصه شوې.»

ولسمشر غني په یوه فرمان کې چې متن یې په ځینو کورنیو رسنیو کې نشر شوی، د عبدالمتین بېګ تر څنګ د پروان د ولایتي شورا رییس غلام بهاوالدین جیلاني ته هم د دغې کمېټې د ریاست په چارو کې مسوولیت سپارلی دی.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د حکم پر اساس، د بهرنیو چارو وزارت سرپرست او سیاسي مرستیال محمد هارون چخانسوري، د غني سلاکاران وحید عمر او شاه حسین مرتضوي، د دفاع وزارت لوی درستیز بسم‌الله وزیري، په سیاسي او ولسي چارو کې د افغانستان د ملي امنیت شورا مرستیال وحیدالله قتالي او د چارو د اداري سرپرست الهام عمر هوتکي د دغې کمېټې غړي دي.

غني د افغانستان د دفاع، کورنیو چارو او ترانسپورټ وزارتونو، د ملي امنیت عمومي ریاست، د کابل ښاروالۍ او ځینو نورو دولتي ادارو ته هم له دغې ځانګړې کمېټې سره د همکاریو امر کړی دی.

د جمهور رییس غني د لوړې مراسمو لپاره دغه کمېټه په داسې حال کې جوړه شوې، چې د ولسمشریزو ټاکنو د وروستیو پایلو له اعلان وروسته راپورته شوې نانډرۍ لا هم پر خپل ځای پاتې دي.

په دغو ټاکنو کې د ښاغلي غني له بریالي کېدو سره هممهاله د ثبات او همپالنې ټاکنیزې ډلې مشر عبدالله عبدالله هم ځان ګټونکی بللی او د یو ټولشموله حکومت د جوړولو اعلان یې کړی دی.

عبدالله او پلویانو یې په تازه اقداماتو کې د ځینو ولایتونو لپاره نوي والیان هم معرفي کړي چې دغو نانډریو په کور د ننه او نړیواله کچه اندېښنې راپارولې دي.

د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې په خپلو تازه څرګندونو کې ویلي، اوس د دې وخت رسېدلی چې د افغانستان سیاسي مشران د سولې له بهیر څخه د ملاتړ لپاره سره یو موټي شي.

کې پر خپل ټویټر لیکلي: «آرامتیا، خبرو او جوړجاړي ته اړتیا ده، نه یو اړخیزو اقداماتو ته. د سولې لپاره دغه فُرصت باید له لاسه ورنه کړل شي.»

# عامې روغتیا وزارت: په هرات کې د کرونا ویروس درې مشکوکې پېښې ثبت شوې



عامې روغتیا وزارت په هرات ولایت کې د کرونا ویروس د دریو مشکوکو پېښو د ثبتېدو خبر ورکړی دی.

د روغتیا وزارت سلاکار او ویاند ډاکټر وحیدالله مایار امریکا غږ ته ویلي چې دا کسان تازه د ایران له قُم ښار څخه افغانستان ته راغلي وو چې د ستونې درد او تبه یې لرله.

هغه ویلي، تر دې مهاله معلومه نه ده چې یاد کسان پر عادي موسمي ناروغۍ اخته شوي او که پر کرونا ویروس.

مایار زیاته کړې چې د یادو دریو کسانو د ناروغۍ نمونې د تشخیص لپاره کابل ته لېږل شوې چې تر ۲۴ ساعتونو پورې به یې پایله اعلان شي.

هغه ویلي: «زموږ دریو هېوادوالو په هرات کې زموږ له روغتیایي ټیمونو سره اړیکه نیولې، هغوی موږ د تجدد واټ ته انتقال کړي دي، تر څارنې لاندې دي، نمونه ترې واخیستل شوه، هغه نمونه یې کابل ته انتقال شوې ده، نتیجه یې تر ۲۴ ساعتونو معلومېږي چې منفي ده که مثبت.»

مایار ویلي چې له ایرانه افغانستان ته په تېرو څو ورځو کې ځینې افغانان راغلي چې دا مهاله یې جدي څارنه کېږي.

یاد وزارت تر دې مخکې افغانستان ته د کرونا ویروس د داخلېدو د مخنیوي په موخه د جدي تدابیرو نیول کېدو خبر ورکړی و.

خو ایران چې له افغانستان سره پر پوله پروت دی او ډېر افغان کډوال هم په هغه هېواد کې اوسېږي، له ایرانه افغانستان ته د کرونا ویروس د انتقالېدو په اړه اندېښنې موجودې دي. پر همدې مهال په ایران کې افغان سفیر عبدالغفور لېوال په هغه هېواد کې له مېشتو افغان کډوالو څخه غوښتي چې له یاد ویروس څخه د خوندیتوب په موخه د ایران د روغتیا وزارت له خوا سپارښتنې په نظر کې ونیسي.

بلخوا افغان حکومت د دغو راپورونو تر خپرېدو وروسته، تر نامعلومې نېټې ایران ته هوایي او ځمکنۍ تګ راتګ بند کړی او ویلې یې دي چې له یاد هېواده به د هګیو او غوښو واردول هم په دغه بندیز کې شامل وي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٨٥ |
| € | ٨٣,٣٠ |
| Rp. | ٤٩٥ |
| ₹ | ١٠٩٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ٩٨,٩٠ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



وایگل چاپ

WAYGAL Printing Co.

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!

+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96

waygalprinting.co@gmail.com

waygalprinting.co

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



دوشنبه د ۱۳۹۸ د کب پنځمه | د ۲۰۲۰ د فبروري ۲٤مه | ۵۱۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۱۳ | ۲۰ | ۲۳ | ۲۰ | ۲٤ | ۲۲ |
| ▼ | ۲ | ۸ | ۷ | ۸ | ۱۰ | ۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۷ | لمر ختل ۰۶:۳۰ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۳:۱۸ | ماښام ۰۵:٤٤ | ماخوستن ۰۷:۰۸

## ارګ: تا دو هفتۀ دیگر هیئت گفت‌وگوکننده با طالبان معرفی خواهند شد



همزمان با اجرایی‌شدن دورۀ هفت روزۀ «کاهش خشونت‌ها» در کشور که قرار است در ختم آن، توافق صلح میان طالبان و امریکا امضا شود و سپس گفت‌وگوهای میان افغانان آغاز شود، ارگ ریاست‌جمهوری افغانستان می‌گوید که تا دو هفتۀ دیگر هیئت گفت‌وگوکننده با طالبان معرفی خواهند شد.

به گفتۀ ریاست‌جمهوری، این هیئت صلاحیت‌های خواهد داشت و در گفت‌وگوهای میان افغانان-حکومت افغانستان، سیاسیون و طالبان از افغانستان نماینده‌گی خواهد کرد.

صدیق صدیقی، سخن‌گوی ریاست‌جمهوری افغانستان دیروز به رسانه ها گفته است که برای تائید تصمیم‌های هیئت گفت‌وگوکنندۀ صلح با طالبان، یک اجماع سیاسی و یا هم لویه جرگه برگزار خواهد شد.

این در حالی است که سخن‌گوی طالبان می‌گوید که با حکومت افغانستان به تنهایی نه بلکه با جهت‌های افغانی پس از پایان حضور نیروهای خارجی، گفت‌وگو خواهند کرد.

در همین حال، سیاسیون و رهبران احزاب در کشور می‌گوید که هیئت گفت‌وگوکنندۀ صلح باید همه‌شمول باشد.

سید اسحاق گیلانی، رهبر حزب نهضت همبستگی ملی افغانستان در این باره گفته است: «احزاب و همه شخصیت‌های طراز اول مملکت برخلاف ارگ استند و به هیچ صورت در هیئتی که اشرف غنی آن‌ها را تعیین کرده باشد، این‌ها حاضر نیستند که برونند همراه طالبان صحبت کنند.»


نړۍ



## روسیه: په منځني ختیځ کې د رواني بې ثباتۍ یوازینی لامل امریکا ده

۳

## د ایران روغتیا وزارت: په دغه هېواد کې د کرونا ویروس ۷۸۵ مشکوکې پېښې ثبت شوې



د ایران روغتیا وزارت ویلي، په دغه هېواد کې د کرونا ویروس ۷۸۵ مشکوکې پېښې ثبت شوې چې ځینې یې رسمي شوې هم دي.

د دغه هېواد چارواکو ویلي چې پر دې ناروغۍ اخته دوه نور کسان هم مړه شوي، چې په دې سره په دغه هېواد کې د کرونا ویروس له کبله د وژل شویو کسانو شمېر اتو تنو ته رسېدلی دی.

د راپورونو له مخې، دا له چین څخه بهر پر دغه ویروس چې رسمي نوم یې کاوېډ-۱۹ دی، د وژل شویو کسانو د مړینې تر ټولو لوړ شمېر ګڼل شوی. د ایران روغتیا وزارت ویاند کیانوش جهانپور د دغه هېواد له دولتي ټلوېزیون سره د خبرو پر مهال ویلي، په ایران کې پر کرونا ویروس ۱۵ نور کسان هم اخته شوي، چې ورسره دغه شمېرې ٤۳ ته رسېدلې دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د مازندران ولایت د طبي علومو د پوهنتون رییس عباس موسوي ویلي وو، په مړو کې هغه شخص هم شامل دی چې په وروستیو کې له تهران څخه د مازندران ولایت مرکز تُنکابن ته په سفر تللی و.

د ایران روغتیا وزارت پرون ویلي وو، چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس ۷۸۵ مشکوکې پېښې شته.

په چین کې چې اول دغه ویروس پکې خپور شو، تر اوسه تر ۲۳۰۰ زیات کسان مړه شوي دي.

## اروپايي ټولنه: اسراییل دې په ختیځ بیت المقدس کې په ناقانونه توګه د کورونو له جوړولو ډډه وکړي


د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، د اروپايي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشر جوزپ بورل ویلي، چې اسراییل دې په اشغال شویو فلسطیني سیمو کې په ناقانونه توګه د کورونو له جوړولو ډډه وکړي.

نوموړي په یوه اعلامیه کې ویلي، د بیت المقدس په شاوخوا سیمو کې د اسراییلو له خوا د کورونو جوړولو تازه طرحه له نړیوالو قوانینو سره په ټکر کې ده. هغه زیاته کړې: «د بیت المقدس په شاوخوا کې د اسراییلو له خوا د کورونو جوړولو تازه طرحه له نړیوالو قوانینو سره په تضاد کې ده او په دې سره به په سیمه کې تاوتریخوالی نور هم ډېر شي، اړینه ده چې له دغه ډول اقداماتو ډډه وشي.»

د نوموړي څرګندونې داسې مهال دي چې په دې وروستیو کې د اسراییلو لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو ویلي، چې هېواد یې په ختیځ بیت المقدس کې د زرګونو نورو کورونو د جوړولو پلان لري. هغه د دې ترڅنګ ویلي چې هېواد به یې په بنیت او ابوغنیم سیمو کې هم تر دوو زرو کورونه جوړ کړي. د اروپايي ټولنې د بهرني سیاست مشر د اسراییلو دغه اقدامات غندلي او ټینګار یې کړی چې یاد هېواد دې په سیمه کې له پاروونکو کړنو ډډه وکړي.

ژوند

## د موخې مسیر څومره ارزښت لري؟



د جي کیو مجلې په یوه مطبوعاتي خبرتیا کې راغلي وو: «موخې ته د رسېدو لپاره کولای شی له بېلابېلو مسیرونو ګټه واخلئ.» د دې جملې مانا او مفهوم مې ډېر خوښ شول. د هرې موخې په طرف سفر ارزښت لري، هغه که د ژوند او یا کار په اړه وي او یا هم یوه بله غوره موخه. د سفر ارزښت مو د موخې له ارزښت کم نه دی. هغه موضوع چې غواړم اشاره ورته وکړم دا ده چې په ژوند کې د لوړو پوړیو پر خوا سفر کول هغومره ارزښت لري لکه خپل هماغه مقام او لوړې پوړۍ ته رسېدل. په ژوند کې همدا پرمختګ دی چې تاسې ته بدلون درکوي، تاسې ته درس درکوي او هغه نبوغ چې په تاسې کې نغښتی دی، ویښوي. نو که له دې وروسته خپلو موخو ته د رسېدو په لاره، کار او ژوند کې له بې صبرۍ او یا ناهیلۍ سره مخ شوی، دا در په زړه کړئ چې په داسې یو موقعیت کې یاست کوم چې ستاسو لپاره غوره دی، څو وده وکړی. کېدای شي چې د سفر مسیر مو له هغې موخې چې غواړۍ ورته ورسېږی، غوره وي.

## ولې له ډوډۍ خوړو وروسته خوب درځي؟



ډېر کله چې موږ ډوډۍ وخورو، سمدستي خوب راځي. ولې؟! ډاکټران وايي، کله چې تاسي خوراک کوی، نو په وجود کې مو د انسولین اندازه زیاتیږي. په وجود کې د انسولین په زیاتیدو سره په بدن کې د خوب هورمونونه هم افرازیږي او انسان ته خوب ورځي. پر دې سربېره، ډاکټران دا هم وايي چې د ډوډۍ خوړل او د هغې هضمول د وجود انرژي مصرفوي. د ډوډۍ ډېر خوړل او د هغې هضمول هم د وجود تقریباً ٦۰ تر ۷۰ سلنه انرژي مصرفوي. د انرژۍ مصرف له هغې وروسته کله چې د ډوډۍ خوړلو اندازه زیاته شي، ډېرېږي. څومره چې تاسې ډېر خوراک کوی، هومره ستاسې د وجود ډېره انرژي مصرفیږي. وجود ستړی کیږي او انسان د ستړیا احساس کوي او خوب ورځي.

د دې ستونزې د حل لپاره یوازینۍ حللاره دا ده، چې تاسې لږ ډوډۍ وخورئ، خو د ورځې په بېلابېلو وختونو کې یې وخورئ. ډاکټران دا هم وايي چې په ډوډۍ خوړلو پسې سمدستي خوب کول په معده او کولمو کې د هضمیت ستونزې را پیدا کوي او د ځینو ناروغیو لامل هم کېږي. نو ښه ده چې له ډوډۍ وروسته قدم ووهئ، څو مو خواړه ښه هضم شي.




ماستر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank